# په روغتون کي بستر کول د علاج دپاره

(د 1983 د دماغي روغتيا لايحه 3 برخه)

| | |
|---|---|
| 1. د ناروغ نوم | |
| 2. د هغه کس نوم چه ستاسو د مواظبت صلاحيت لري (ستاسو ٌٌ د معالجي د پاره مسئول شخص) | |
| 3. د روغتون نوم او برخه | |
| 4. د هغه نيتي پيل چه ناروغ د 3 برخي سره سم تر مواظبت لاندي نيول شوي دي | |

## ولي زه په روغتون کي يم؟

تاسو د 1983 د دماغي روغتيا د لايحي د 3 برخي لاندي په دغه روغتون کي ساتل کيږي. دغه دا معني لري چه دوه تنه داکټران فکر کوي چه تاسو يوه دماغي ناروغي لري او تاسو ضرورت لري چه په روغتون کي پاتي شي څکه تاسو ته علاج او مواظبت ورکول کيږي.

## زه به څومره مده دلته يم؟

تاسو دلته د لمړي ځل دپاره تر شپږو مياشتو پوري ساتل کيږي تر څو هغه علاج چه تاسو ضرورت ورته لري تاسو ته درکړ شي.

تاسو د دغه مودي په جريان کي بايد دا ځاي ترک نه کړي بغير د دي نه چه ستاسو د مواظبت با صلاحيت شخص (ستاسود معالجي د پاره مسئول شخص) تاسو ته ووايي چه تاسو کولاي شي. که چيري تاسو وغواړي چه دا ځاي ترک کړي کارکونکي تاسو ته راګرځولي شي، او که چيري تاسو دا ځاي ترک کړي تاسو بيرته راوړل کيږي.

## وروسته به څه کيږي؟

ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص کيداي شي تاسو ته ووايي کله چي دوي فکر وکړي چه ستاسو روغتيا په کافي توګه ښه شوي ده چه روغتون ترک کړي. که چيري ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص فکر وکړي چه تاسو ضرورت لري چه د علاج دپاره په روغتون کي د شپږ مياشتو نه زياد پاته شي، دوي تجديد کولاي شي چه د نورو شپږ مياشتو د پاره تاسو په روغتون کي پاته شي، او پس له دي نه تر يوه کال فقط د يو ځل دپاره. ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص کيداي شي چه تاسو سره د هري دوري تر پايه پوري په دي هکله خبري وکړي.

## څه علاج ماته راکول کيږي؟

ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص او نور کارکونکي غږي تاسو سره د هر علاج په باره کي چه دوي فکر کوي چه تاسو ضرورت ورته لري خبري کوي. په اکثر قضاياو کي تاسي مجبور ياستي چه د دوي مشوري ومني.

پس له دري مياشتو، دلته مخصوص مقررات د هره درمل او دوا دپاره چه تاسو ته ستاسي د دماغي ناروغي دپاره درکول کيږي وجود لري. که چيري تاسو دغه طبي علاج او دواګاني نه غواړي، او يا سخت ناروغ ئي چه نه شي ويلاي چه تاسي هغه غواړي که نه، يوه ډاکتر هغه ځوک چه دي روغتون سره کوم اړيکي نه لري تاسو معاينه کوي. ا مستقل ډاکتر تاسو سره او د روغتون هغه کارکونکو سره چه تاسو پيژني، خبري کوي. مستقل داکتر فيصله کوي چه کومه دوا او درمل تاسو ته درکړل شي. بغير د هغه په عاجل حالت کي همدغه دوا او درمل پرته ستاسو له موافقي څخه تاسو ته ورکول کيږي.

دغه مستقل ډاکتر د SOAD ( د دوهمي نظريي ښودونکي ډاکتر ) په نامه ياديږي او د يوه مستقل کمسيون په واسطه ټاکل کيږي کيږي چه د دماغي روغتيا د لايحي څخه د استفادي د څرنګوالي نظارت کوي.

دلته مختلف مقررات د ځيني خاصو علاجو دپاره وجود لري، لکه د برقي تکان علاج (ECT). که چيري کارکونکي فکر وکړي چه تاسو يوه خاص علاج ته ضرورت لري، مقررات تاسو ته تشريح کوي او تاسو ته يوه بله نشريه درکول کيږي.

## ايا زه درخواست (دعوي) کولاي شم؟

هو، تاسو د هغي فيصلي په مقابل کي چه تاسو تر 3 برخه لاندي په روغتون کي ساتل کيږي درخواست ( دعوي) کولاي شي.

که داسي وکړي، تاسو کولاي شي چه د روغتون د منيجرانو نه وغواړي چه تاسو ته د روغتون د پريښودلو اجازت درکړي. تاسو دغه کار هر وخت کولاي شي. د روغتون منيجران د د روغتون په دننه کي د کار کونکو څخه جوړه يوه خاصه کميته ده چي فيصله کوي چه کوم ناروغان
بايد په روغتون کي وساتل شي. دوي غواړي چه تاسو سره د روغتون د پريښودلو د اجازي د فيصلي څخه د مخه خبري وکړي.

تاسو کولاي شي چه په لاندي ادرس د روغتون منيجرانو ته وليکي:

او يا تاسو کولاي شي چه د کارکونکو يوه غړي ته غوښتنه وکړي چه تاسو ته د روغتون د منيجرانو سره د ارتباط په هکله مرسته وکړي.

ستاسو نژدي قريبان هم کولاي شي چه د روغتون د منيجرانو ته خط وليکي او ووايي چه دوي غواړي چه تاسو ته د روغتون د ترک کولو اجازه ورکړل شي. دغه نشريه تشريح کوي چه ځوک ستاسو نژدي قريبان دي. که چيري ستاسو نژدي قريبان دغه کار کوي، د روغتون منيجران بايد تاسو ته د 72 ساعو په جريان د ترک کولو اجازه درکړي ، بغير د هغه نه ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص دوي ته ( تداوي خپلوانو ته) ووايي چه دغه کيداي شي ستاسو د ځان دپاره او د نوروخلکو دپاره خطرناک وي که چيري تاسو ته د ترک کولو اجازه ورکول کيږي. که چيري دغه رامنځ ته شوه، بيا د نورو شپږ مياشتو د پوره کيدو د مخه ستاسو نژدي قريبان قادر دي چه د روغتون منيجرانو ته بيا ووايي چه دوي غواړي چه تاسو روغتون ترک کړي، که چيري تاسو تراوسه پوري هم په روغتون کي ساتل کيږي.
همدا راز تاسو کولاي شي چه د محکمي څخه وغواړي چي چه تاسي بايد د يوه اوږدي مودي دپاره په روغتون کي پاته نشي.

## د محکمي دادګاه څه شي دي او څه پيښيږي؟

د محکمي دادګاه يو مستقل هيئت دي چه کولاي شي فيصله وکړي چه ايا تاسو ته بايد اجازه درکړل شي چه روغتون  ترک کړي.   کيداي شي چه دوي ستاسو سره او د روغتون د کارکونکو سره چه تاسو وپيژني يو مجلس ونيسي.  دغه مجلس دٍاوريدلً په نامه ياديږي. تاسو کولاي شي چه کوم بل چا څخه غوښتنه وکړي چه دوي تاسو سره اوريدلو مجلس ته د مرستي د پاره راشي، که چيري تاسو وغواړي. د اوريدلو نه د مخه، د محکمي د دادګاه غړي ستاسو د مواظبت په باره کي د روغتون له خوا راپوررونو  لولي. د محکمي دادګاه د غړي د جملي څخه يوه کس کيداي شي چه راشي او تاسو سره خبري وکړي.

## کله زه کولاي شم چه د محکمي د دادګاه دپاره وړانديز ورکړم؟

تاسو کولاي شي چه د محکمي دادګاه ته يوه مراتبه په هره وخت کي په لمړنيو شپږو مياشتو کي چه تاسو د 3 برخي لاندي په روغتون کي ساتل کيږي درخواست وکړي. پس له دي نه تاسو کولاي شي چه يو مراتبه په هره وخت کي د دوهم د  شپږو مياشتو په مده کي درخواست وکړي، او پس له هغه نه يو مراتبه د هره کال په جريان کي چه تاسو په روغتون کي ساتل کيږي.

که چيري ستاسو نژدي قريبان د روغتون منيجرانو ته ووايي چه دوي تاسو دپاره غوښتنه کړي ده چه تاسو ته د روغتون د ترک کولو اجازه ورکړل شي، لاکن ستاسو د معالجي د پاره مسئول شخص ووېل چه تاسو ته اجازه در نه کړل شوه چه روغتون ترک کړي،  ستاسو نژدي قريبان  همدارازکولاي شي چه د يوي محکمي درخواست وکړي. ستاسو نژدي قريبان بايد د 28 ورځو په ترڅ کي وروسته له هغه چي ستاسي د معالجي مسؤل شخص ووايې چه تاسوته د روغتون د ترک کولواجازه نه ورکول کيږي د محکمي درخواست ورکړي.

که چيري تاسو وغواړي چه د محکمي د دادګاه دپاره درخواست ورکړي تاسو کولاي شي چه دغه ادرس ته وليکي:

The Tribunals Service
PO BOX 8793
5th Floor
Leicester
LE1 8BN

تيلفون 0300 123 2201

تاسو کولاي شي چه د يوه وکيل څخه پوښتنه وکړي چه  محکمي ته ستاسو دپاره وليکي او تاسو سره په اوريدلو کي مرسته وکړي.
روغتون او حقوقي تولنه د  د وکيلانو يو لست لري چه څوک په دغه کي متخصص دي.  تاسو مجبور نه يي چه د مرستي د يوه وکيل دپاره پيسي ورکړي.  دغه د قانوني مرستي د پلان په اساس چارج نلري او مفت دي.

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قريبان وپوهيږي

د دغه نشريي يوه کاپي هغه کس ته ورکول کيږي چه د دماغي روغتيا مقررات (لايحه) ووايي چه دغه ستاسو نژدي قريب دي.

د دماغي روغتيا په لايحي کي يو لست دي چه کوم کسان ستاسو قريبان دي. پر طبعي ډول، هغه شخص چي په لست کي لومړيتوب لري هغه ستاسو  نژدي قريب ګڼل کيږي. د روغتون کارکونکو کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه ورکړي چه دغه تشريح کړي چه ستاسو نژدي قريبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

که چیري تاسو نه غواړي چه دغه سړي یوه کاپي نشریه تر لاسه وکړي، لطفاً خپلي نرس او یا د کارکونکو یوه غړي ته ووایي.

## ستاسو د نژدي قریبانو بدلول

که چیري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قریبانو په حیث یو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کي د یو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قریب په عوض چلند وکړي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه ورکړي چه په هغه کي دغه تشریح شوي دي.

## ستاسو لیکونه

هغه ټول لیکونه چه تاسو ته راغلي دي د هغه وخت نه چه تاسو په روغتون کي ئي تاسو ته ورکول کیږي. تاسو کولاي شي چه هر چا دپاره خط ولیږي پرته له هغه کسانو څخه چه دوي ویلي دي چه دوي نه غواړي ستاسو له خوا لیکونه واخلي. لیکونه دغه خلک ته د روغتون د کارکنانو له خوا ځنډول کیږي.

## د تمرین کود

دلته د تمرین یوه کود دي چه د روغتون کارکونکو ته چي خلکو ته د دماغي روغتیا درمان ورکوي د دماغي روغتیا د لایحي په باره کي مشوره ورکوي . کارکونکي مجبور دي چه کود تر کتني لاندي ونیسي چه کود څه ویلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصمیم نیسي. تاسو کولاي شي غوښتنه وکړي چه د کود یوه کاپي د لیدو لپاره درکړه شي، که چیري تاسو وغواړي.

## څنګه زه شکایت کولاي شم ؟

که چیري تاسو وغواړي چه د ځني شیانو د سرته رسولو په باره کي چي په روغتون کي ستاسو د مواظبت او علاج په تړاو دي شکایت وکړي ، لطفاً د کارکونکو د یوه غړي سره خبري وکړي. کیداي شي چه دوي قادر وي چه موضوع حل کړي . همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شکایاتو د طریقي په باره کي معلومات ورکړي، چه تاسو کولاي شي د هغه په استفادي خپل شکایات د هغي لاري حل کړي چه د داخلي حل په نامه یادیږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلکو په باره کي چه هغوي کولاي شي ستاسو شکایت ته رسیدګي وکي خبري وکړي.

که چیري تاسو احساس کړه چه د روغتون د شکایاتو روش نه شي کولاي چه تاسو سره مرسته وکړي ، تاسو کولاي شي چه یوه مستقل کمسیون ته شکایت وکړي. کمسیون نظارت کوي چه د دماغي روغتیا د لایحي څرنګه استفاده کیږي ، اطمنان حاصل کړي چه هغي ته په صحیح توګه استفاده شوي ده او دغو ناروغانو د هغه وخت څخه چه دوي په روغتون کي دي په صحیح توګه توجه شوي ده. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسوته یوه تشریح شوي نشریه ورکړي چه څرنګه کمسیون سره ارتباط پیدا کړي.

## زیادتر مرستي او معلومات

که چیري دلته ځني شیان ستاسو د مواظبت او علاج په باره کي وي  چه تاسو په هغه  نه یاست پوه شوي، د کارکونکو یو  غړي کوشش کوي چه تاسوسره مرسته وکړي.  لطفاً د کارکونکو د یوه غړي څخه غوښتنه وکړي چه ستاسو د پاره کي تشریح  کړي که چیري ځني شیان په دغه نشریه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او یا تاسي پوه نشي او یا که چیري تاسو بل پوښتنه لري چه دغه نشریه ځواب نه ورکوي .

لطفاً غوښتنه وکړي که چیري تاسو علاقمندي لري چه د دغي نشریي یوه بل کاپي د یو بل چا دپاره ورکړي.